afghanistan justice archive

DEC1.08.23.2022

د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

معینیت تضمین کیفیت

**د تقنین او پالیسی ریاست**

# د نجونو او هلکانو د ښوونیزو مؤسسو د تفکیک لایحه

# لایحهٔ تفکیک مؤسسات تعلیمی اناث و ذکور

# (٦۴)

تاریخ نشر: ۲۵ محرم الحرام سال ۱۴۴۴ هـ. ق

د خپرېدو نېټه: د ۱۴۴۴ هـ ق کال د محرم الحرام ۲۵

afghanistan
justice
archive



# لړلیک


| ماده | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| | لومړی فصل | |
| | عمومي حکمونه | |
| لومړۍ ماده | مبنی | ۱ |
| دوهمه ماده | اهداف | ۱ |
| دریمه ماده | د نجونو د ښوونې او روزنې اهمیت | ۱ |
| څلورمه ماده | د تطبیق ساحه | ۱ |
| | دوهم فصل | |
| | د نجونو او هلکانو د ښوونیزو مؤسسو تفکیک | |
| پنځمه ماده | د جنسیت پر بنسټ تبدیلي | ۲ |
| شپږمه ماده | د ښوونکو د تشې ډکول | ۳ |
| اوومه ماده | په جلا وختونو کې درسي برنامه تنظیمول | ۳ |
| اتمه ماده | ښوونیزه څارنه او پلټنه | ۳ |
| نهمه ماده | د ښوونکو او مدیرانو د ظرفیت لوړولو برنامې | ۳ |
| لسمه ماده | د ښوونیزې مؤسسې شورا | ۴ |
| یوولسمه ماده | د لایحې له تطبیق څخه څارنه | ۴ |
| | دریم فصل | |
| | وروستني حکمونه | |
| دوولسمه ماده | انفاذ | ۴ |

afghanistan justice archive
DEC1.08.23.2022

بسم الله الرحمن الرحیم



## د نجونو او هلکانو د ښوونیزو مؤسسو د تفکیک لایحه

### لومړی فصل
### عمومي حکمونه

مبنی

لومړۍ ماده

دغه لایحه د پوهنې د قانون د یوپنځوسمې مادې او د پوهنې وزارت د مقام د شفاهي هدایت پر بنسټ وضع شوې ده.

موخې

دوهمه ماده

۱. ښوونې او روزنې ته په هېواد کې د نجونو د متوازن لاسرسي پر وړاندې د پرتو خنډونو له منځه وړل.

۲. د ښوونې او روزنې په بهیر کې د زدکوونکو، ښوونکو او اداري او خدماتي کارکوونکو د جنسیتي خوندیتوب تأمینول.

د نجونو د ښوونې او روزنې اهمیت

دریمه ماده

د نجونو ښوونه او روزنه د افغانستان د اسلامي امارت لپاره ځانګړی اهمیت لري، د پوهنې وزارت د اسلامي شریعت او د هېواد د فرهنګي شرایطو سره سم د نجونو د ښوونې او روزنې د پراختیا لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

د تطبیق ساحه

څلورمه ماده

د دې لایحې حکمونه د پوهنې وزارت په اړوندو ټولو ښوونیزو مؤسسو (دولتي او خصوصي ښوونځیو، مدرسو، دارالحفاظونو، دارالعلومونو، د لیک لوست زده کړې مرکزونو، او ښوونیزو کورسونو کې د تطبیق وړ دي.

## لایحۀ تفکیک مؤسسات تعلیمی اناث و ذکور

### فصل اول
### احکام عمومی

مبنی

مادۀ اول

این لایحه بر اساس مادۀ پنجاه و یکم قانون معارف و هدایت شفاهی مقام وزارت معارف وضع گردیده است.

اهداف

مادۀ دوم

۱. رفع موانع در برابر دسترسی متوازن دختران به تعلیم و تربیه در کشور.

۲. تأمین مصونیت جنسیتی متعلمین، معلمان و کارکنان اداری و خدماتی در جریان تعلیم و تربیه.

اهمیت تعلیم و تربیۀ اناث

مادۀ سوم

تعلیم و تربیۀ اناث برای امارت اسلامی افغانستان حایز اهمیت خاص بوده، وزارت معارف به منظور انکشاف تعلیم و تربیۀ اناث مطابق به شریعت اسلامی و شرایط فرهنگی کشور تدابیر لازم را اتخاذ می‌نماید.

ساحۀ تطبیق

مادۀ چهارم

احکام این لایحه در تمام مؤسسات تعلیمی (مکاتب، مدارس، دارالحفاظها، دارالعلومها، مراکز سوادآموزی و کورس‌های تعلیمی دولتی و خصوصی) وزارت معارف قابل تطبیق می‌باشد.

afghanistan justice archive



## دوهم فصل

## د نجونو او هلکانو د ښوونیزو مؤسسو تفکیک

### د جنسیت پر بنسټ تبدیلي

پنځمه ماده

هغه ښوونیزې مؤسسې چې تدریسي او اداري هیأت یې مختلط وي، د نومړو ښوونځیو مخالف جنس ښوونکي/ اداري او خدماتي کارکوونکي په لاندې توګه نورو ښوونیزو مؤسسو ته تبدیلیږي:

۱. هغه نارینه ښوونکي/ اداري او خدماتي کارکوونکي چې د نجونو په ښوونیزو مؤسسو کې دنده لري، د ولسوالی/ ښوونیزې حوزې په کچه د هلکانو تر ټولو نیږدې مشابه ښوونیزو مؤسسو ته تبدیلیږي. شب باش/ ساتونکي، جنسي او نقدي معتمد، برقي، نجار او نور کارکوونکي چې دندې یې له ښځینه جنس سره مطابقت نه کوي له تبدیلۍ څخه مستثنی دي. د هغوی د کار ډول د جلا کړنلارې سره سم تنظیمیږي.

۲. هغه ښځینه ښوونکې او اداري کارکوونکې چې د هلکانو په ښوونیزو مؤسسو کې له شپږم ټولګي څخه په لوړو ټولګیو کې دنده لري د ولسوالی/ ښوونیزې حوزې په کچه د نجونو ښوونیزو مؤسسو یا د هلکانو لومړنیو ښوونیزو مؤسسو ته چې تدریسي او اداري هیأت یې ښځینه وي، تبدیلیږي.

۳. که چیرې د ښوونکو تبدیلي په ښوونیزه مؤسسه کې د تجربه لرونکو ښوونکو د کمښت لامل شي په دې صورت کې تر هغه وخته پورې چې د شرایطو لرونکې ښځینه ښوونکې استخدامیږي، له ۵۰ کلونو څخه د لوړ سن لرونکي نارینه ښوونکي نه تبدیلیږي.

۴. په دې ماده کې راغلې د ښوونکو تبدیلي په دوهمه ښوونیزه مؤسسه کې د درسي مکلفیت حجم ته په پام

## فصل دوم

## تفکیک مؤسسات تعلیمی اناث و ذکور

### تبدیلی به اساس جنسیت

مادۀ پنجم

مؤسسات تعلیمی که هیأت تدریسی/ اداری و خدماتی آن مختلط می‌باشد، معلمان/ کارکنان اداری و خدماتی مؤسسات تعلیمی مذکور به سایر مؤسسات تعلیمی قرار ذیل تبدیل می‌گردند:

۱. معلمان/ کارکنان اداری و خدماتی ذکوری که در مؤسسات تعلیمی اناث وظیفه دارند، به سطح ولسوالی/ حوزۀ تعلیمی به نزدیکترین مؤسسات تعلیمی مشابه ذکور تبدیل می‌گردند. شب باش/محافظ، معتمد جنسی و نقدی، برقی، نجار و سایر کارکنان که وظایف شان با جنس مؤنث مطابقت ندارد از تبدیلی مستثنی اند. طرز کار آنها مطابق طرزالعمل مربوط تنظیم می‌گردد.

۲. معلمان و کارکنان اداری اناثی که در صنوف بالاتر از صنف ششم مؤسسات تعلیمی ذکور وظیفه دارند، به سطح ولسوالی/ حوزۀ تعلیمی به نزدیکترین مؤسسات تعلیمی اناث یا مؤسسات تعلیمی ابتدائیه ذکور که هیأت تدریسی و اداری آن اناث باشد، تبدیل می‌شوند.

۳. هرگاه تبدیلی معلمان در مؤسسۀ تعلیمی باعث کمبود معلمان با تجربه گردد، در این صورت معلمان ذکور دارای سن بالاتر از ۵۰ سال الی مدتی که معلمان اناث واجد شرایط استخدام می‌شوند، تبدیل نمی‌گردند.

۴. تبدیلی معلمان مندرج این ماده با در نظرداشت حجم مکلفیت درسی در مؤسسۀ تعلیمی دوم قابل

سره د پلي کېدو وړ دي.

۵. په دې ماده کې راغلې تبدیلۍ د ولایتونو/ کابل ښار د پوهنې د ریاستونو په تشخیص له بشري سرچینو ریاست سره په همغږۍ وړاندیز او د پوهنې وزارت په منظورۍ سره صورت نیسي.

### د ښوونکو د تشې ډکول

شپږمه ماده

د پوهنې وزارت، په ښوونیزو مؤسسو کې د ښوونکو کمښت چې د ښوونکو په تبدیلۍ سره رامنځته کېږي، په لومړي قدم کې د جنسیت موافق د موجوده ښوونکو په توظیفولو او په دوهم قدم کې د آزادې سیالۍ له لارې د نویو ښوونکو په استخدامولو سره مرفوع کوي.

### په جلا وختونو کې درسي برنامه تنظیمول

اوومه ماده

که چېرې نارینه او ښځینه ښوونیزې مؤسسې له مشترکې ودانۍ ګټه اخلي، د نجونو او هلکانو درسي برنامه په جلا وختونو کې تنظیمېږي.

### ښوونیزه څارنه او پلټنه

اتمه ماده

(۱) د نجونو په ښوونیزو مؤسسو کې له ښوونیزو چارو څخه څارنه د ښځینه څارونکو له لوري او د هلکانو په ښوونیزو مؤسسو له ښوونیزو چارو څخه څارنه د نارینه څارونکو له لوري صورت نیسي.

(۲) د نجونو د ښوونیزو مؤسسو د ادارو پلټنه (تفتیش) د ښځینه پلټونکو او د هلکانو د ښوونیزو مؤسسو د ادارو پلټنه د نارینه پلټونکو له لوري ترسره کېږي.

### د ښوونکو او مدیرانو د ظرفیت لوړولو برنامې

نهمه ماده

(۱) د ښځینه ښوونکو او مدیرانو د ظرفیت لوړولو

تعمیل می‌باشد.

۵. تبدیلی مندرج این ماده به اساس تشخیص ریاست های معارف ولایات/ شهرکابل در هماهنگی با ریاست منابع بشری پیشنهاد و منظوری مقام وزارت معارف صورت می‌گیرد.

### رفع خلای معلمان

مادهٔ‌ششم

وزارت معارف، کمبود معلمان را در مؤسسات تعلیمی که در نتیجهٔ تبدیلی معلمان ایجاد می‌گردد، در قدم نخست با توظیف معلمان موجود، موافق جنسیت و در قدم دوم با استخدام معلمان جدید از طریق رقابت آزاد مرفوع می‌نماید.

### تنظیم برنامهٔ درسی در اوقات جداگانه

مادهٔ هفتم

در صورتی که مؤسسات تعلیمی اناث و ذکور از تعمیر مشترک استفاده می‌نمایند، برنامهٔ درسی اناث و ذکور در اوقات جداگانه تنظیم می‌گردد.

### نظارت تعلیمی و تفتیش

مادهٔ هشتم

(۱) نظارت از امور تعلیمی در مؤسسات تعلیمی اناث توسط نظارت کنندگان اناث و نظارت از امور تعلیمی در مؤسسات تعلیمی ذکور توسط نظارت کنندگان ذکور صورت می‌گیرد.

(۲) تفتیش ادارات مؤسسات تعلیمی اناث توسط مفتشین اناث و تفتیش ادارات مؤسسات تعلیمی ذکور توسط مفتشین ذکور انجام می‌شود.

### برنامه های ارتقای ظرفیت معلمان و مدیران

مادهٔ نهم

(۱) برنامه های ارتقای ظرفیت معلمان و مدیران

afghanistan justice archive

DEC1.08.23.2022

برنامې د ښځينه ښوونکو او د نارينه ښوونکو او مديرانو د ظرفيت لوړولو برنامې د نارينه ښوونکو له خوا ترسره کېږي.

(۲) د اړتيا په صورت کې له ۵۰ کلونو څخه د لوړ سن لرونکي نارينه ښوونکي د اړونـدې کـړنلارې سره سم کولای شي د ښځينه ښوونکو او مديرانو د ظرفيت په لوړولو کې همکاري وکړي.

د ښوونيزې مؤسسې شورا

لسمه ماده

(۱) د نجونو د ښوونيزې مؤسسې شورا له ښځينه غړو او د هلکانو د ښوونيزې مؤسسې شورا له نارينه غړو څخه جوړېږي.

(۲) د نجونو د ښوونيزې مؤسسې په شورى کې د جومات د امام او نورو غړو په ځای ځايي متنفذې او پوهنپالې ښځې غړيتوب ترلاسه کوي.

د لايحې له تطبيق څخه څارنه

يوولسمه ماده

د ولايتونو او کابل ښار د پوهنې رياستونه د دې لايحې له تطبيق څخه دوامداره څارنه کوي.

دريم فصل

وروستني حکمونه

انفاذ

دوولسمه ماده

د نجونو او هلکانو د ښوونيزو مؤسسو د تفکيک لايحه په دريو فصلونو او دوولسو مادوکې منظوروم.

د دې لايحې په نافذېدو سره په دې هکله پخواني مغاير حکمونه لغوګڼل کېږي.

اناث توسط آموزگاران اناث و برنامه های ارتقای ظرفيت معلمان ذکور توسط آموزگاران ذکور انجام می‌شود.

(۲) در صورت ضرورت آموزگاران ذکور دارای سن بالاتر از ۵۰ سال با در نظرداشت طرزالعمل مربوط می‌توانند در ارتقای ظرفيت معلمان و مديران اناث همکاری نمايند.

شورای مؤسسۀ تعليمی

مادۀ دهم

(۱) شورای مؤسسۀ تعليمی اناث از اعضای اناث و از مؤسسۀ تعليمی ذکور از اعضای ذکور تشکيل می‌گردد.

(۲) در شورای مؤسسۀ تعليمی اناث به عوض امام مسجد و ساير اعضا، زنان متنفذ و معارف پرور محل عضويت حاصل می‌نمايند.

نظارت از تطبيق لايحه

مادۀ يازدهم

رياست‌های معارف ولايات و شهرکابل از تطبيق اين لايحه نظارت دوامدار می‌نمايند.

فصل سوم

احکام نهايی

انفاذ

مادۀ دوازدهم

لايحۀ تفکيک مؤسسات تعليمی اناث و ذکور را در سه فصل و دوازده ماده منظور می‌دارم.

با انفاذ اين لايحه احکام مغاير سابقه در اين مورد ملغی پنداشته می‌شود.

مولوي حبيب الله آغا

د پوهنې سرپرست وزير